نظرمحمد مطمئن 2018/12/17

# متحده عرب اماراتو کې د افغان سولې مذاکرات او اندېښنې

طالبان، امریکا، سعودي عربستان، عرب متحده امارات او پاکستان

نظرمحمد مطمئن
لیکوال او شنانند

په متحده عرب اماراتو کې چې طالبان له امریکایانو سره مخامخ خبرې کوي، تمه ده چې دغه خبرې ښې پایلې ولري، زه د یو افغان په صفت د ورانديز تر حده وایم، دا چې نن ورځ غونډې کې د سعودي عربستان، د اماراتو او پاکستان استازو د ګډون سره طالبانو توافق کړی، په داسي حال کې چې ستونزه د امریکا/ناټو ځواکونو د شتون پر سر ده. او د طالبانو او امریکایانو ترمنځ ډیر ځله مخکې هم مخامخ خبرې شوې، نو ښه به وای چې د سعودي عربستان ، متحده عرب اماراتو او پاکستان د استازو د ګډون پر ځای په غونډه کې د افغان حکومت د استازو له ګډون سره طالبانو توافق کړی وای.

زما په آند چې په نننۍ غونډه کې به بیا هم اساسي خبره دا وي چې پر طالبانو د بېلابېلو لارو فشار راوستل شي، تر څو د افغان حکومت له استازو سره مخامخ خبرو ته زمینه مساعده شي.

که طالبان کوم وخت د امریکا، پاکستان، سعودي عربستان او اماراتو د فشار نتیجه کې له افغان حکومت سره خبرو ته چمتووالي ښیي، نو ښه به وای چې له نننۍ غونډې ورانديې یې لیوالتیا ښودلې وای، او ویلي یې وای چې پرته د نورو هیوادونو له فشاره، ښه ګنو چې له افغان حکومت سره مخامخ دوه په دوه ناسته ولرو، غواړو چې د سولې برخه کې د هغوی پر واک او صلاحیت باندي یوه شو .

داچې امریکا تر ٥ ځله زیات له طالبانو سره مخامخ خبرې کړي، او طالبان ځان ډیر قوي هم ښیي، که کوم وخت پرته د نورو هیوادونو له فشاره، د خپلو شرایطو او پریکړې له مخې د افغان حکومت له استازو او افغان سیاسي ډلو له مشرانو سره کیني، دا به یو د سولې اړوند پرمختګ وګڼل شي، او باالاخره یوه اړتیا هم ده.

هره هغه لوبه چې پاکستان پکې دخالت ولري، افغان ولس اندیښنه لري چې نتیجه به یې ښه نه وی، موږ د مجاهدینو د وخت ترخې او ناکامه تجربې مخکې لرو.

د مجاهدینو رهبرانو اګاهانه او یا د امریکا او روسانو د توافق له امله ونه شوای کولای چې له روسانو سره د جګړې د ختم لپاره د افغان ولس ښه استازولي وکولای شي، د دوی پر ځای د افغان – روس جګړې اړوند په ژنیو کې پاکستان پریکړه وکړه، چې د همهغه نا سمې پریکړې (١٩٨٨ ز کال) له امله تر دې مهاله موږ (افغانان) په جګړه کې پاتې شوي یو.

که د افغان سولې اړوند طالبان د کوم بهرني هیواد تر فشار لاندي پریکړو ته مجبوره کیږي، او یا نا اګاهانه تیروتنه کوي، د مجاهدینو په پخوانیو قدمونو خپل قدمونه ږدي، داسي یوه نه جبرانیدونکې سیاسي تیرونه به ورځخه کیږي، چې کلونه نور به هم افغان ولس په جګړو کې پاتې شي، او یا به د امریکا د پوځیانو شتون ته زمنیه برابره شي، چې بیا به هم د سیمې هیوادونه زموږ په کورنیو چارو کې د امریکا دپوځیانو د شتون سره د مخالفت له امله مداخلې کوي، نا امنې به وي، او د نورو هیوادونو تر منځ د جګړې قربانیان به افغانان وي.

فکرکوم چې د ماسکو فورمټ غونډې امریکا وارخطا کړې، امریکا له بېلابېلو لارو پر پاکستان فشار راوړی، همدا ډول امریکا له سعودي عربستان او متحده عرب اماراتو څخه د مرستې غوښتنه کړې، په دغسې حساس پړاو کې د طالبانو استازي نه باید د تیرو ١٧ کلونو د افغان ولس قربانی، دربدری، وژنې او بې ځایه کېدنې نا لیدلې ونیسي، او د امریکا د فشار په نتیجه کې دوی هم د ځینو هیوادونو د فشار له کبله هغه تیروتنې تکرار کړي کوم چې د مجاهدینو رهبرانو وکړې.

د سولې اړوند د هرې هڅې قدرداني کوو، خو چې د امریکا- افغان جګړې اړوند مسئلې کې څومره هم نور د امریکا ملګري هیوادونو ته په خبرو کې برخه ورکول کیږي، په هغه اندازه به د خبرو پله (تله) د امریکا په ګټه وي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د اماراتو غونډې وښودله چې امريکا غواړي په ډېر مهارت سره د افغان سولې خبرو کې د ماسکو، چين ، منځنی اسيا، ترکيې، قطر او ايران هڅې پيکه کړي. که څه هم د افغان سولې اړوند زموږ ګټې هيڅ هيواد په نظر کې نه نيسي، هغوی به خپلې ګټې او امتيازات غواړي، ولې د پاکستان په وساطت په امارتو کې غونډه، په داسي حال کې چې وار له مخه د طالبانو او امريکا تر منځ مخامخ خبرې پيل شوې، افغان ولس سره پوښتنه داده د ناستې ګټه به طالبانو ته که ورسره ناستو هيوادونو ته ډېره وي.

ښکاري چې په اماراتو کې افغان سولې اړوند غونډې له امله به يوازې پاکستان او د هغوی متحدين (سعودي عربستان او عرب متحده امارات) ګټه کوي، امريکا ته ښيي چې طالبان هڅوي چې له امريکا سره يوې معاملې ته چمتو شوي، خو طالبان به يکې دا تاوان کوي چې ځينې هغه هيوادونه چې په سيمه کې د امريکا د پوځي شتون سره مخالفت لري، د امريکا ګټې په سيمي کې ننګوي، هغوی به پر طالبانو شکمن کړي، او له طالبانو سره به بيرته فاصله ونيسي.

پرته له شکه چې ايران به په اماراتو کې د سعودي عربستان او اماراتو د استازو ګډون په اندېښنه کې واچوي، همدا ډول ترکيه .

او ماسکو چې غوښتل يې د امريکا يکه تازي په سيمه کې وننګوي، د ماسکو فورمټ غونډه يې جوړه کړي، د امريکا او ملګرو ملتونو له فشار سره سره يې طالبانو ته په غونډه کې د ګډون زمينه مساعده کړه، هغوی به هم د امريکا نوي هڅې ته د شک په سترګه ګوري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ